# شيطان ستاسو څخه یو ته راځي او وايي: دا فلانی شی چا پیدا کړی؟ دا فلانی شی چا پیدا کړی؟ تر دې چې ووايي: ستا رب چا پیدا کړی؟ نو کله چې دې حد ته ورسېده، نو په الله دې پناه وغواړي او نور دې ودریږي

له ابو هريرة - رضي الله عنه - څخه روایت دی چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم - فرمایلي دي:
«شيطان ستاسو څخه یو ته راځي او وايي: دا فلانی شی چا پیدا کړی؟ دا فلانی شی چا پیدا کړی؟ تر دې چې ووايي: ستا رب چا پیدا کړی؟ نو کله چې دې حد ته ورسېده، نو په الله دې پناه وغواړي او نور دې ودریږي.»
[صحيح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغو پوښتنو په اړه چې شیطان یې مؤمن ته وسوسې ور اچوي د مؤثرې درملنې څخه خبر ورکوي. شیطان به ووايي: دا فلانی چا پیدا کړی دی؟ دا فلانی چا پیدا کړی دی؟ ځمکه چا پیدا کړې ده؟ نو مؤمن به ورته د دین، فطرت او عقل له مخې پدې وینا سره جواب ورکړي چې: الله، خو شیطان د وسوسې اچولو لدې حد سره نه ودریږي، بلکې بل پړاو ته ځي تر دې چې ووایی: ستا رب چا پیدا کړی دی؟ بیا مؤمن په دریو کارونو سره دغه وسوسه له منځه وړي: په الله تعالی باندې په ایمان لرلو سره. او له شیطان څخه په الله جل جلاله باندې پناه وړلو سره. او په وسوسو کې له مخکې تللو څخه په ودریدلو سره.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee